د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون
کمیسیون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی
Independent Administrative Reform and Civil Service Commission



# ۱۳۹۹
# فعالیتونو راپور

## لنډیز

**د کمېسیون په اړه**

**پېژندنه**

د لومړي ځل لپاره د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون د جوړولو طرحه د بن د هوکړو پر بنسټ وشوه. کمېسیون د لنډمهاله اداري د رییس د ۲/۳/۱۳۸۱نېټې د ۲۵۷گڼې تقنیني فرمان پر بنسټ (د ملکي اداري خپلواک کمېسیون) په نوم د یوه ځانګړي بودیجوي واحد په توګه جوړشو. چې موخه یې د سالمې ادارې د رهبرۍ رامنځته کول، د اهلیت، لیاقت او تخصص له مخې د ملکي خدمتونو د کارکوونکو استخدام، د ملکي خدمتونو د دندو تثبیت او د ملکي خدمتونو کارکوونکو د ذاتي چارو تنظیم ښودل کېده.

د افغانستان د اسلامي انتقالي دولت د مشر د ۲۰/۳/۱۳۸۱نېټې د ۲۵ گڼې فرمان د دویمې مادې د حکم له مخې د کمېسیون نوم له(د ملکي اداري خپلواک کمېسیون) څخه (د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون) بدل شو او په همدې نېټه یې عملا په کار پیل وکړ.

د دغه فرمان د لومړۍ مادې د حکم له مخې، د اصلاحاتو د سراسري پروګرام طرحه، تنظیم، مشري او تطبیق د همدې کمېسیون مسوولیت دی. په همدې ډول د دغه فرمان د درییمې مادې د حکم له مخې، ځینې نور موضوعات لکه د ملکي لوړ پوړو مامورینو تشخیص، انتخاب او د تقرر وړاندیز، د ملکي ادارو د وړاندیزونو څېړنه او تایید، د ټیټ پوړو مامورینو له تعییناتو څارنه، د استخدام په اړه د ملکي مامورینو د عریضو او شکایتونو څېړنه هم د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمېسیون له دندو ګڼل کېږي.

د یاد شوي فرمان د شپږمې مادې د حکم له مخې، وزارتونه او دولتي ادارې وګومارل شوې چې د کمېسیون د پرېکړو درناوی وکړي.

**لیدلوری**

د غوره حکومتوالۍ په اډانه کې د ملکي خدمتونو د یوې قانونمندې، غیر سیاسي، با ثباته، حساب ورکوونکې ادارې رامنځته کول چې د بنسټیزو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره له عامه سرچینو څخه د اغېزمنې استفادې وړتیا ولري.د عوایدو لوړ والی، د هېواد د ټولنیزې او اقتصادي پراختیا لپاره د خصوصي او ټولنیزې برخې له پراختیا ملاتړ ولري.

**ماموریت:**

رهبري، ستراتیژیکه لارښوونه، د ملکي خدمتونو د مدیریت په برخه کې د مهارتونو چمتو کول، د عامه ادارې د یوه پیاوړي، اغېزمن او قوي سیستم له پراختیا څخه ملاتړ.

**جوړښت**

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون له ۹ کمېشنرانو څخه تشکیل شوی چې له دې ډلې یې یو کس د ولسمشر له لوري د کمېسیون د مشر په توګه ټاکل کېږي. همدارنګه دغه کمېسیون درې عمومي ریاستونه او دوه بورډونه لري.

**د ملکي خدمتونو د تعییناتو بورډ**

د ملکي خدمتونو د تعییناتو بورډ د اهلیت او وړتیا د معیارونو پر بنسټ د لوړ پوړو دولتي کارکوونکو د ګومارنې، د ټیټ پوړو کارکوونکو له تعییناتو د څارنې، د ملکي خدمتونو په بنسټونو کې د اصلاحاتو پروګرامونو او د یوې سالمې ادارې د رامنځته کولو په موخه د ملکي خدمتونو له بنسټونو سره د همکارۍ لپاره فعالیت کوي.

**د ملکي خدمتونو د شکایتونو بورډ**

دغه کمېسیون د غیرموجه تادیبي مویداتو، نا قانونه هدایاتو او اوامرو، د طرز سلوک مقررې له مندرجو احکامو څخه د سرغړونې، شخصي سوانحو ته د نه لاس رسي، له کوم معقول دلیل پرته د غوښتنلیک له منلو انکار، د ملکي خدمتونو د تعییناتو بورډ او په وزارتونو کې د استخدام کمېټو د تبعیضي چلند او د ملکي خدمتونو په تړاو د شته شکایتونو او نورو کارکوونکو د موجه نیوکو یا شکایتونو د څېړنې لپاره کار کوي.

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

دغه ریاست د کمېسیون په اجرایي، مالي او اداري چارو د اړوندې لایحې له مخې د کمېسیون د رییس تر څارنې لاندې فعالیت کوي او همدارنګه د اداري اصلاحاتو د پروګرامونو، پروژو او فعالیتونو د پلي کېدو بهیر ارزوي او څاري، بیا یې راپور د کمېسیون مشر ته وړاندې کوي.

د ملکي خدمتونو عمومي ریاست

دغه ریاست د دولتي خدمتونو د ادارې، تنظیم او وړاندې کولو، د قوانینو، فرمانونو، مقررو او ملکي کړنلارو د طرحې او ترتیب، د مسلکي مشورو وړاندې کولو او له پالیسیو(کړنلارو) څخه د څارنې په موخه جوړ شوی دی.

**د ملکي خدمتونو د انستیتیوت عمومي ریاست**

د ملکـي خدمتونو دغـه انسـتیتیوت یـو ښـوونیز او اکاډمیـک بنسـټ دی چـې د ملکـي خدمتونـو د کارکوونکـو او د پوهنتونونـو د فارغینـو د ظرفیـت لوړونـې پـه موخـه فعالیـت کـوي. د دې ترڅنـګ د اداري اصلاحاتـو او ملکـي خدمتونـو کمېسـیون لـه سـتراتیژیکو موخـو سره سـم د ملکـي خدمتونـو د کارکوونکـو د ظرفیـت لوړولـو لپـاره د سـتراتیژیکي او عملیـاتي پـلان جوړونـې، د ښـوونیزو پالیسـیو، سـتراتیژیو او لارښـوونو د طرحـې او ترتیـب د انسـتیتیوت نـورې موخـې دي.

**د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون په خپل تشکیل کې ۹۶۵ تنه کارکوونکي لري چې ۶۴۶ تنه يې په مرکز او ۳۱۹ تنه يې په ولایتونو کې په کار بوخت دي.**



## د فعالیتونو نوملړ


په ملکي خدمتونو کې تعیینات ........................................................ ۵
د ازموینې منځپانګې جوړول او څېړل ........................................................ ۸
شکایتونو څېړل ........................................................ ۹
د اداري فساد پروړاندې مبارزې په کمېسیون کې غړیتوب غوره نوماندانو معرفي ..................... ۱۰
د جمهوري ریاست فرمانونو، احکامو او هدایاتو عملي کول ........................................ ۱۰
د سازماني جوړښت اصلاح او هدفمند کول ........................................................ ۱۱
د قوانینو اصلاح او طرحه ........................................................ ۱۲
په دولتي ادارو کې د کاري پروسو ښه والی ........................................................ ۱۳
د الکترونیکي حکومتوالی ښه والی ........................................................ ۱۴
د انساني سرچینو مدیریت پراختیا........................................................ ۱۵
د مکافاتو فرهنګ پیاوړتیا........................................................ ۱۶
په ملکي خدمتونو کې د ښځو ملاتړ ........................................................ ۱۷
د اصلاحاتو له تطبیق څارنه او ارزونه ........................................................ ۱۸
د تغییر پروژې فعالیتونه او لاسته راوړنې........................................................ ۱۸
د اصلاحاتو او پراختیا لپاره څېړنه او اړتیا سنجونه ........................................ ۲۰
د سرچینو او خلاقیت مرکز ........................................................ ۲۱
له نړیوالو پراختیایي شریکانو سره د ژمنه شویو شاخصونو تطبیق........................................ ۲۲
د دندو لایحو بیا کتنه او شننه ........................................................ ۲۲
ملکي خدمتونو په اداروکې بنسټ محوره ظرفیت روزنه ........................................ ۲۳
د عامه پوهاوي په برخه کې فعالیتونه ........................................................ ۲۵
د کمېسیون ولایتي او مرکزي ریاستونو د مالي او حسابي........................................ ۲۶
بودیجې لګښت څرنګوالی ........................................................ ۲۶

## په ملکي خدمتونو کې تعیینات

د اداري اصلاحاتـو او ملکـي خدمتونـو خپلـواک کمېسـیون پـه ۱۳۹۹ مـالي کال کـې، پـه کابـل او ولایتونـو کـې د ۲۰۵۷۵ بسـتونو ګومارنـې پروسـې او ګومارنـې ځارنـې طـی مراحـل کـړي چـې جزییـات یـې پـه لانـدې ډول دي.

**ګومارل شوي**

| شمېره | مالي کال | "ب" ردیف منظوري | | | | "ج" ر دیف | | | | "د" ردیف | | | | "ه" ردیف | | | | بهرني | | بهرنیو چارو وزارت | | ډله ییزې ازموینه | د نارینه او ښځو په تفکیک مجموعه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | مرکزي | | ولایتي | | مرکزي | | ولایتي | | مرکزي | | ولایتي | | مرکزي | | ولایتي | | | | | | | نارینه | ښځینه |
| | | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | | | |
| ۱ | 1399 | ۱۰۵ | ۱۹ | ۱۲۳ | ۱۰ | ۸۹٤ | ۱٦۳ | ۱۳۷۳ | ۱۳۱ | ۲۲۰ | ٤٤ | ۵۳۳ | ۵٤ | ۹۱۸ | ۱٦۳ | ۲۹۹۷ | ۱٤٤ | ۱۵ | ۰ | ٦۵ | ۱۳ | مامورین او ښوونکي | 7243 | 741 |
| مجموعه | | ۱۲٤ | | ۱۳۳ | | ۱۰۵۷ | | ۱۵۰٤ | | ۲٦٤ | | ۵۸۷ | | ۱۰۸۱ | | ۳۱٤۱ | | ۱۵ | | ۷۸ | | | 7984 | |
| عمومي مجموعه | | ۲۵۷ | | | | ۲۵٦۱ | | | | ۸۵۱ | | | | ٤۲۲۲ | | | | ۱۵ | | ۷۸ | | ۱۲۵۹۱ | 20575 | |

**غوښتنلیکونه او په شرایطو برابر**

| د (ب ردیف) عالي رتبه بستونه | | ځارنیز | | ډله ییزې ازموینې | | د مالیې وزارت مرکزي بستونه | | د بهرنیو چارو وزارت | کرونا ویروس خپرېدو پرمهال د عامې روغتیا وزارت لوړ رتبه بستونه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د غوښتنلیکونو شمېر | په شرایطو برابر | د غوښتنلیکونو شمېر | په شرایطو برابر | د غوښتنلیکونو شمېر | په شرایطو برابر | د غوښتنلیکونو شمېر | په شرایطو برابر | د داخلي ازادو سیالیو ازموینو برخوالو شمېر | د غوښتنلیکونو شمېر | په شرایطو برابر |
| ۱۲۵۸۳۵ | ۱۵۹۰۳ | ۱۳٦٤۳٦ | ۸۰۷۵٤ | ۱۸۸۹۰۵ | ۱٦۲۱۸۷ | | | ۲۰٤ | ٦۰ | ٦۰ |

### د لوړ رتبه بستونو ګومارنې



لوړ رتبه بستونو کمپیوټري ازموینه

د اداري اصلاحاتـو او ملکـي خدمتونـو خپلـواک کمېسـیون پـه ۱۳۹۹ کال کـې، پـه مرکـز او ولایتونـو کـې د ملکـي خدمتونـو ۹٦۳ لـوړ رتبـه بسـتونه ازادې سـیالی تـه وړانـدې کـړل. لـه دې جملـې، د ٦٦٦ بستونو د شارټ لیست پروسـه بشـپړه شـوې. ۵۸۵ بسـتونو کمپیوټـري ازموینـه او ۵۳۲ بسـتونو د ګومارنـې مصاحبـه تـرسره شـوې. ۴۹۷ نوماندان توانېـدلي چـې پـه تحریري او مصاحبـو ازموینو کـې بریالي شي. تراوسـه د ۲۵۷ لـوړ رتبـه بسـتونو د ګومارنـې پروسـه بشـپړه شـوې ده.

### د ورودي کچې بستونو او ښوونکو بستونو ډله ییزه ګومارنه



کابل کې د ښوونکو او ملکي خدمتونو ۵او٦ بستونو ډله ییزې ازموینو پرانیسته

کمېسـیون د هېـواد پـه ۳۴ ولایتونـو کـې لـه اړونـدو وزارتونـو او ادارو سره پـه همغـږۍ کـې د ښـوونکو او ملکي خدمتونـو مامورینـو ۱٦ زره او ۹٦٦ بستونه پـه ښـه او د ډله ییزې ازموینې له لارې یې سیالی ته وړاندې کـړل. پـه کابـل او ولایتونـو کې د ډله ییزې ازموینې له تـرسره کولو وروسـته، د ګومارنـې ۱۲۵۹۱ بسـتونو پروسـه بشـپړه شـوه او د ښـوونکو بسـتونو او ملکـي خدمتونـو ۵ او ٦ بسـتونو بریالي کسـان اړونـدو اداروتـه معـرفي شـول.

### د ګومارنې ځارنه

کمېسیون پـه مرکـز او ولایتونـو کـې د ج ردیـف ۲۵٦۱ بسـتونو، د د ردیـف ۸۵۱ بسـتونو او د هــ ردیـف ۴۲۲۲ بسـتونو د ګومارنـو لـه پروسـو ځارنـه کـړې. لـه دریـم تـر اتـم بسـتونو د ګومارنـې پروسـې د وزارتونـو او دولتـي ادارو صلاحیـت دی او کمېسـیون پـه دغـو پروسـو کـې یـوازې ځارنیـزه ونـډه لـري. پـه ډېـرو مـواردو کـې، مخصوصـاً ولایتونـو کـې خلـک دغـو بسـتونو کـې د ګومارنـو پروسـو څرنګوالي او پـه دغـو پروسـو کـې د لازم شـفافیت لـه نشـتوالي شـکایت لـري. د دغـې سـتونزې د حـل لپـاره، کمېسـیون د کمپیوټـري ازموینـو مرکزونـو پـه جوړولـو لاس پـورې کـړی. د کمپیوټـري مرکزونـو پـه جوړولـو سره، تمـه کېـږي دغـه سـتونزه حـل شي.

### د کرونا ویروس خپرېدو کې د عامې روغتیا لوړ رتبه بستونو اختصاصي ګومارنه

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون د طبي عالي شورا او عامې روغتیا وزارت په همکارۍ وتوانید چې د عامې روغتیا وزارت لوړ رتبه ۱۲ بستونو په اختصاصي ډول وګوماري.


کرونا ویروس خپرېدو وخت کې د عامې روغتیا وزارت اختصاصي بستونو ازموینه

### د مالیې وزارت بستونو ګومارنه

د ډله ییزې ازموینې له لارې د مالیې وزارت ۲۰۴ تنه کارکوونکي ګومارل شوي چې ۳۸ بستونه یې د عوایدو او ګمرکونو اړوند دي. دا لومړی ځل دی چې د مالیې وزارت بستونو لپاره رقابتي ازموینه ترسره کېږي.

### په بهرنیو چارو وزارت کې د ګومارنې بهیر

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون د بهرنیو چارو محترم وزارت د ۸۷ بستونو ګومارنې پروسې چې پکې د هغه وزارت د ډیپلوماتیک، قونسلي او داخلي بستونه شامل دي، نظارت کړی.


مالیې وزارت او نورو ادارو بستونو ډله ییزې ازموینې پرانیسته

### د اتشو بستونو ګومارنه

کمېسیون د ترانسپورت او د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارتونو د اتشو ۱۵ بستونو ګومارنه بشپړه کړې ده.

### د نویو کمپیوټري ازموینو مرکزونو جوړول

کمېسیون په هلمند، جوزجان، تخار او لوګر ولایتونو کې د کمپیوټري ازموینو څلور مرکزونه جوړ کړي.
دغه مرکزونه په پرمختللې ټکنالوژۍ سمبال دي چې پکې انساني لاسوهنه او نفوذ قطعاً وجود نه لري.
ازموینه ورکوونکي کولای شي د ازموینې پایله له ځنډه پرته په اتوماتیک ډول، د ازموینې په پای کې، ترلاسه کړي.



بهرنیو چارو وزارت او اداري اصلاحاتو اوملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون ترمنځ د هوکړه لیک لاسلیکولو مراسم



# د کمپیوټري ازموینو مرکزونو کې د تکنالوژیکو تجهیزاتو کړنې









## د ازموينې منځپانګې جوړول او څېړل

په ۱۳۹۹مالي کال کې، د ازموينو د منځپانګې جوړولو او څېړنو مرکز په مجموعي توګه په پښتو، دري او انګليسي ژبو (۱۸۱۰۲) پوښتنې په دريو «پوهې»، «مهارتي» او «شننو» برخو کې طرحه کړې دي چې له دې جملې (۱٦٤٤٧) پوښتنې د منځپانګې او ارزونې بورډ بيا کتنې له «تولیزې ارزونې» وروسته نهايي او د پوښتنو بانک عمومي سيستم کې درج شوې دي. د پوښتنو په طرحه کولو کې له ۸۰۰ معتبره سرچينو څخه له پرمختللې ميتودولوژۍ کار اخيستل شوی. په دغه کال کې توليد شوې منځپانګه، په حمايوي او تخصصي برخو کې جوړه شوې ده.


کميسيون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی

صفحه نخست | پایگاه اطلاعات | دربارهٔ ما | فرصت‌ها | استخدام الکترونیک

بست‌های اول و دوم

بست‌های خدمات ملکی به بخش‌های حمایوی و مسلکی تقسیم گردیده‌اند:

۱, بست‌های حمایوی (Common Function Positions):

بست‌های اند که به منظور انجام وظایف مشخص، به‌صورت مشترک در تشکیل رسمی تمام ادارات، به منظور ارائه خدمات حمایوی برای تحقق اهداف اداره درنظر گرفته می‌شوند و مطابق قانون شامل بست‌های دفترداری، مالی، اداری، تدارکات، مدیریت منابع بشری، تفتیش داخلی، نظارت و ارزیابی، پالیسی و پلان، اطلاعات و ارتباط عامه، جندر و حقوق بشر، خدمات (تکنالوژی معلوماتی) ترانسپورت، حفظ و مراقبت و جنسی و سایر بست‌های مشابه می‌گردند.

داوطلبان بست‌های حمایوی می‌توانند جهت آمادگی برای سپری نمودن امتحان الکترونیکی به منابع و مأخذ ذیل مراجعه نمایند:

منابع

۲, بست‌های مسلکی (Professional Positions):

بست‌های اند که به‌منظور انجام وظایف مسلکی-تخصصی در تشکیل وزارت‌ها/ادارات برای ارائه خدمات تخنیکی جهت تحقق اهداف اداره در نظر گرفته می‌شوند و شامل بست‌های انجنیری، زراعت، طب، معادن، و سایر بست‌های مشابه می‌گردند.

داوطلبان بست‌های مسلکی می‌توانند جهت آمادگی برای سپری نمودن امتحان الکترونیکی به منابع و مأخذ ذیل مراجعه نمایند:

منابع

### الف) حمايوي برخه

په دې برخه کې جوړې شوې پوښتنې، د ستراتيژيک مديريت، عامه پالیسۍ پروګرام، تغيير مديريت رهبری، ارتباطاتو، کنټرول، تصميم نيولو، بشري سرچينو مديريت او سازماندهي، مالي او بوديجې مديريت، د تداركاتو مديريت او سازماني چلندونو ورتياوو په برخو کې دي چې په مجموعي توګه ۳۰٤٦ پوښتنې دي.

### ب) تخصصي برخه

د عدلې، پوهنې، ماليې، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژی، اوبو چارو تنظيم، عامې روغتيا، اقتصاد، کرنې اوبولګولو او مالداری، اطلاعات اوفرهنګ وزارتونو، احصايې او معلوماتو او ملکي هوايي چلند ادارو مسلکي بستونو الکترونيکي ازموينو لپاره تخصصي پوښتنې د اړوند برخې متخصصينو په همکاری، جوړې شوې دي چې په توليز ډول ۱۳۳۹۸ پوښتنې دي.

### د اوسنی منځپانګې بيا کتنه او دويم بانک پروژې تطبيق

د ازموينو د منځپانګې جوړولو او څېړنو مرکز د همدې کال په ترڅ کې د الکترونيکي ازموينو په سيستم کې د موجوده حمايوي ۲٤۵۰ پوښتنې چې مديريتي وړتياوې، اساسي، ښه حکومتوالي او عمومي پوهې پکې شاملې دي، له کره والي د ډاډ ترلاسه کولو په موخه ورباندې بياکتنه شوې.


ازموينو منځپانګې جوړولو او څېړنو مرکز دروازه

د ازموينو د منځپانګې جوړولو او څېړنو مرکز د تېر مالي کال په ترڅ کې، په ۷ برخو (کرنې او مالداری، انجنيری، اقتصاد، حقوق او سياسي علومو، مديريت، ښې حکومتوالی او عمومي مطالعاتو) د وړتياوو چارچوب پراختيا او د (۱۰٤۰۰) الکترونيکي پوښتنو په موخه يوه طرحه چې ۵۲ ساحې پکې شاملېږي، د تغيير پروژې رياست په مالي ملاتړ ترسره کړه چې له هغې جملې د زماني محدوديت له امله، ٦٤۰۰ پوښتنې د يادو برخو په ۳۲ ساحو کې جوړې کړې دي.

### د الکترونيکي ازموينو د معلوماتي سرچينو خپرول

د ازموينو د منځپانګې جوړولو او څېړنو مرکز د همدې کال په جريان کې، د کميسيون د رسمي ويبپاڼې له لارې معلوماتي سرچينې خپرې کړې دي څو له يوې خوا د ملکي خدمتونو ټولو داوطلبانو ته په برابره توګه د سيالی شرايط برابر کړي او بل پلو، په هېواد کې د مطالعې فرهنګ د رواجولو لامل شي او د کار بازار او توليز ډول د ملکي خدمتونو کارکوونکو د انساني ځواک د ظرفيت لوړولو لامل شي.دغه راز، د الکترونيکي ازموينو سيستم موندنې د دې ښکارندوی دي چې په الکترونيکي ازموينو کې د داوطلبانو د نمرو په کچه کې، د معلوماتي سرچينو له معرفي وروسته د پام وړ زياتوالی راغلی دی.

## شکایتونو څېړل

### د ملکي خدمتونو کارکوونکو شکایتونو شننه او څېړل

په ۱۳۹۹ مالي کال کې، د شکایتونو څېړلو بورډ کې ۱۳ زر او ۷۴۰ شکایتونه ثبت شوي دي: ۶۵۲۱ شکایتونه انفرادي، ۷۰۱۷ شکایتونه د ښوونکو بستونو او ملکي خدمتونو ۵او۶ بستونو ډله ییزي ازموینې بهیر او ۲۰۲ مورده بیا کتنه.

انفرادي شکایتونه، نه شارت لیست کېدل (۵۱۱۵ مورده)، ازموینې پایلې په اړه نه قناعت (۷۹۵ مورده)، ازموینې نه اخیستل (۷۵ مورده)، پروسې شفافیت نشتوالی (۱۰ مورده)، نه مقرري (۱۰۱ مورده)، د بست اعلان (۶۸مورده)، غیر قانوني تبدیلي (۱۵۶مورده)، ناځرګند برخلیک (۳۴ مورده) او نور موارد (۱۶۷ مورده) دي.

### د مصوبو صادرېدل

شکایتونو څېړلو بورډ په ۱۳۹۹ مالي کال کې، ۵۶۳۶ مصوبې صادرې کړې دي: چې ۴۵۵۴ یې رد، ۸۰۳ تایید، ۱۷۹ یې حفظ، ۴۹ یې بیا اعلان، ۲۶ یې بیا ازموینه، ۴ یې بیا ارزونه او ۲۳ یې نور اختلافي موارد.

دغه راز، د ښوونکو او ۵ او ۶ بستونو ډله ییزې ازموینو د شارت لیست له بهیر څخه ۷۰۱۷ شکایتونه څېړل شوي چې په پایله کې ۵۹۷۲ شکایتونه تایید او ۱۰۴۵ شکایتونه یې رد شوي دي.




### د مصوبو تطبیق نظارت او بیا کتنه

- د بورډ د ۸۰۳ تاییدي مصوبو نظارت شوی دی.
- د بورډ پر مصوبو د بیا کتنې (۲۰۲) شکایتونه ثبت او څېړل شوي دي: (۶۰) تایید، (۱۴۱) رد او (۱) بیا اعلان.
- له محکمې څخه د بیاکتنې په موخه، (۴۸) دوسیې بورډ ته رسېدلې دي چې له هغې جملې (۳۵) دوسیې کارشناسي شوې دي.
- د دولت قضایاوو ته (۳۶) دوسیې استول شوې دي.
- په محاکمو کې (۴۷) دوسیې دوران لاندې دي.
- په ۱۳۹۹ مالي کال کې د ملکي خدمتونو له شپږو ادارو د بورډ د مصوبو او مطالباتو د تطبیق په برخه کې څارنه شوې ده.
- د مصوبو د تطبیق لپاره، شکایت لاندې ادارو ته (۳۶۵) قطعې مکتوبونه استول شوي دي.
- ادارو ته د مشورو لپاره (۱۸۰) مکتوبونه استول شوي دي.
- د ادارو او محاکمو (۱۲۵) مطالبو ته په تېره د بورډ مصوبو نه قناعت قضایاوو په برخه کې ځواب ورکړل شوی دی.


شکایتونو څېړلو بورډ کمېشنرانو غونډه


په دولتي ادارو کې د شکایتونو څېړلو بورډ مصوبو د تطبیق نظارت

## د اداري فساد پروړاندې مبارزې په کمېسيون کې غړيتوب غوره نوماندانو معرفي


اداري فساد پروړاندې مبارزې کمېسيون د غړو غوراوي کمېټې لومړنۍ غونډه

د اداري فساد پروړاندې د مبارزې قانون نهمې مادې حکم او د اداري فساد پروړاندې مبارزې کمېسيون نوماندانو تشخيص کړنلارې له مخې، د اداري فساد پروړاندې مبارزې کمېسيون کې غړيتوب لپاره په شرايطو برابر نوماندانو نوملړ، د مدني ټولنې محترمو غړو سره په همغږۍ او بشپړ تفاهم کې ترتيب او د جمهوري رياست عالي مقام ته واستول شو.

۱۵ کسيزه ابتدايي نوملړ، د ارزونې له يوه پړاو وروسته، د اداري فساد پروړاندې مبارزې په برخه کې د تخصص تجربې او معيارونو له مخې، ( د اداري فساد مخنيوي او پيشگيرۍ او د فساد موارډو نظارت)، مديريتي تجربې، رهبرۍ او شخصيتي ځانګړنو، (نيک شهرت، خپلواکۍ، ژمنې او رېښتينولۍ) له مخې ټاکل شوي دي.

ولسمشر د ۱۵ نوماندانو له ډلې، د د اداري فساد پروړاندې د مبارزې کمېسيون د غړو په توګه د پينځو نوماندانو ټاکل منظور کړل.

## د جمهوري رياست فرمانونو، احکامو او هداياتو عملي کول

### ۱. هدايات

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسيون د ۱۳۹۹ مالي کال، د ا.ا.ج جلالتماب جمهور رييس ۱۲۲ هدايات ترلاسه کړي چې مهمې موضوع ګانې لکه، د ادارو سازماني جوړښت اصلاح او بيا کتنه، د ازادې سيالۍ له لارې د کارکوونکو ګومارل، حقوقي نظرياتو وړاندې کول او د ملکي خدمتونو ادارو او وزارتونو د مقرريو پيشنهادونو څېړل او طې مراحل پکې شاملېږي.

ياد هدايات د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسيون لخوا له اړوندو ادارو سره په همغږۍ کې اجرا شوي دي. د بېلګې په ډول د کانونو وزارت تشکيل د اصلاح او اغېزمنتوب، د زندانونو تنظيم چارو اداري سازماني جوړښت څېړلو او اصلاح، د پوهنې وزارت سلاکارانو او قرار دادي کارکوونکو د فعاليتونو ارزونې، د ملکي هوايي چلند اداري (۵۴) تنو کارکوونکو اغېزناکه کړنو څېړلو، د امو سيند ځنډو تحکيم د تشکيلاتي طرحې د اغېزناکه څېړلو او په وزارتونو او ادارو کې د ازادې سيالۍ له لارې د کارکوونکو ګومارلو يادونه وکړو.



**۲. احکام او فرمانونه**

په ۱۳۹۹ مالي کال کې، د جمهوري ریاست عالي مقام ۱۹ فرمانونه دغه کمېسیون ته رسېدلي دي چې مهمې موضوع ګانې لکه، د عالي شورا ګانو جوړېدل، په ماليې وزارت کې د ولايتي اصلاحاتو او جوړښتونو تعديل فرمان، ځمکې لاندې سرچینو چارو مدیریت ښه والی، د کانونو او پطرولیم سازماني جوړښت، د ښځو عالي شورا جوړېدل، دکابینې غونډو غوره انسجام او د اوبو او انرژی مدیریت ښه والي پکې شامل دي.

دغه راز، کمېسیون په ۱۳۹۹ مالي کال کې د جمهوري ریاست عالي مقام (۲۲) حکمونه ترلاسه کړې دي. د ملکي خدمتونو کارکوونکو تعییناتو ګومارلو بهیر، د دولتي تاسیساتو امنیت تامین، کرونا ویروس خپرېدل، پوهنې وزارت کارکوونکو معاشاتو ورکول، د سیمې له هېوادونو د مرستو جلبول، د علومواکاډمۍ سازماني جوړښت اصلاح او دولسوالانو ګومارنې مؤظفې کمېټې جوړول په دې برخه کې له مهمو موضوع ګانو څخه دي.

## د سازماني جوړښت اصلاح او هدفمند کول

د جمهوري رياست، د افغانستان پراختيايي ستراتيژۍ، د وزارت يا اداري له ليد لوري، ماموريت او موخې سره مطابقت کې د تقنيني سندونو په رعايت سره د وزارتونو او دولتي ادارو تشکيل طرحه او تنظيمېږي. له عامه اداري څخه د خلکو قانوني اړتياوو رفع کولو لپاره، د جوړښتي معيارونو مطابق تشکيل ترتيب او تنظيمېږي. د تشکيل طرحې له مخې، بايد د موازي جوړښتونو، وظيفوي تداخل او مخفي بېکاريو مخنيوى وشي.



د حج اوقافو سرپرست وزیر سره د کمېسیون د رییس لیدنه





اقتصاد وزارت سرپرستي سره د کمېسیون رییس لیدنه

**په ۱۳۹۹ مالي کال ترسره شوي کارونه**

- د وزارتونو او ادارو د (۷۷۴۹) عنوان د دندو لايحو تاييد او بياکتنه چې (۵۲۱۷۶) بستونه احتوا کوي.
- د ۱۳۹۹ مالي کال د ۴۷ وزارتونو او ادارو تشکيل شننه او څېړل او د جمهوري رياست عالي منظورى اخيستو لپاره د دولت کادري چارو تشکيلاتو رياست ته يې استول.
- د بالمقطع، قرار دادي او NTA کارکوونکو احصايوي معلوماتو راټولول چې مجموعاً (۲۶۰۳) بستونه دي.
- د عامي روغتيا له وزارت څخه د لويې څارنوالۍ اداري ته د عدلي طب تشکيل لېږد.
- د لويې څارنوالۍ له اداري څخه د زندانونو اداري ته د ازادۍ سلب محلاتود څارنې عمومي رياست او قانون تنفيذ د تشکيل لېږد.
- د اقتصاد له وزارت څخه مالې وزارت ته د (PIM) برخې تشکيل انتقال.
- د ټولو ادارو کمبود لوړرتبه بستونو د شمېرو او ارقامو راټولول.
- د جمهوري رياست عالي مقام د هدايت له مخې د حظيرې واحد جوړښت طرحه.
- د ج.ا.ا رياست عالي مقام د هدايت له مخې د ولسواليو کتګوري بندي.
- د پراختيايي زونونو جوړښت طرحې نهايي کول.
- د جمهوري رياست عالي مقام د هدايت له مخې د زندانونو چارو تنظيم اداره کې (۴۰۱۹) بستونو زياتوالى.
- د جمهوري رياست عالي د هدايت له مخې، د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د فعاليتونو هر اړخيزه څېړنه.
- په کابل ولايت کې د دويمو واحدونو د ادغام او جوړولو طرحې څېړل.
- د ملکي خدمتونو اجراييوي ارشد کادر مسودې طرحه.
- د وزارتونو او ادارو د رياست/ امريت د انسجام طرحې ترتيب او جوړول.

• د کابینې د پرېکړې له مخې، په وزارتونو او د ملکي خدمتونو په ادارو کې د لوړ رتبه (مافوق او فوق) بستونو تنظیم طرحه.

دغه راز، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون د رهبري هدایت له مخې، د حامد کرزي نړیوال هوایي ډګر جوړښت، بیاکتنه او د هوایي چلند اداري له سقف څخه هوایي ډګر ته د (۸۰) بستونو لېږد، دغه جوړښت پیاوړی شوی دی.

د یادونې وړ ده چې د کار او ټولنیزو چارو وزارت د دندو بیاکتنه د دواړو ادارو د پرېکړې له مخې، پیل خو د هغه وزارت د نه همکارۍ له امله، د دندو بیا کتنې پروسه بنده شوې ده.

د ۳۸۷ ولسوالیو اجراییه امریتونه او عمومي مدیریتونه په مرستیال ولسوال تعدیل شوي، د افغانستان اسلامي جمهوري کابینې د پرېکړې له مخې، د پالیسي جوړونې او اجراییوي ونډې په تفکیک د وزیرانو او معینانو د دندو لایحو مسوده ترتیب او د کمېسیون رهبري مقام ته وړاندې شوې ده.

## د قوانینو اصلاح او طرحه

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون په ۱۳۹۹ مالي کال کې د اداري اصلاحاتو تطبیق ساحې اړوند یو شمېر قوانین، مقررې، کړنلارې، لارښودونه او .... طرحه او تدوین کړې دي چې وروستي مراحل یې د قانون احکامو مطابق تکمیل او د تطبیق لپاره د با اعتباره سند په توګه ذیربطو مراجعو ته استول شوي دي.

### د مقررو طرحه او نهایي کول

د مالي کادر مقرره، د هوایي چلند اداري کادر مقرره، د روغتیایي کادرونو مقررې، د کرنیزو برخو کادرونو مقررې، د تقنین کادر مقرره، د اوسپنې پټلۍ کادر مقرره، د معلوماتي ټکنالوژۍ کادر مقرره، د انجنیرۍ ـ فني کادر مقرره او د بهرنیو چارو کادر مقرره د یو شمېر نافذو کادرونو مقررو په جوړولو او په ستراتیژۍ کې د وړاندویل شویو کادرونو سره چې تاکل شوي د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون لخوا د وزارتونو او دولتي ادارو په مرسته جوړه شي لاندې موخې به ترلاسه شي.


تقنین ریاست غونډه

د اداري فساد مخنیوی او په اجرااتو کې شفافیت، د تبعیض امیزه ورکړو کې مخنیوی، په یو ډول د مزد ورکول او د بست په تفکیک کارکوونکو لپاره د مزد او کادري امتیاز ورکول، د کادري کارکوونکو ظرفیت لوړولو پیاوړتیا، خلکو ته د خدمتونو وړاندې کولو چټکتیا، د هېواد اقتصادي وده او پراختیا او د سالمې او شفافې اداري رامنځ ته کول.

د کادرونو مندرج احکامو منځپانګه کې لاندې موارد شامل دي:

- عمومي ازموینه
- تخصصي ازموینه
- خاصو شرایطو لاندې ګومارل
- کارکوونکو ترفیع
- د کارکوونکو دوراني تبدیلي
- د بست په تفکیک د کادري مادي امتیاز ورکړه
- د کارکوونکو مکلفیتونه
- کادر لپاره د روزنې اکاډمۍ جوړول
- د کادر ذاتي چارو تنظیم مسؤوله اداره

### کړنلارې

کمېسیون د جمهوري ریاست احکامو له مخې، د اترا اداري کارکوونکو، عامې روغتیا کارکوونکو، پوهنې وزارت کارکوونکو، کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت کارکوونکو او د بلخ ولایت ښاروالۍ کارکوونکو ذاتي چارې وڅېړلې او د وړاندیزونو او حل لارو راپور یې د جمهوري ریاست عالي مقام ته استولی دی.

دغه راز، د ولسي جرګې دارالانشاء ریاست درې کلونو ګومارنو او قرار دادونو د طی مراحل له څرنګوالي او د کوید ۱۹

پروړانـدې مبـارزې پـه برخـه کـې د عامـې روغتيـا ګومارلـو ښـځـه شـوې او د ښـځـو پايلـې د جمهـوري عـالي مقـام سره شريكـې شـوې دي.

پـه همـدې توګـه، د ملـي راډيـو ټلويزيـون پـه ادارو کـې د ملکـي خدمتونـو کارکوونکـو، کليـو پراختيـا وزارت، ولسـي جرګـې، پوهنـې وزارت، مخابراتـو او معلومـاتي ټکنالوژۍ او د کډوالـو او راسـتنېدونکو چـارو وزارت د تقنيـني سـندونو د تطبيـق څارنـه شـوې او اصلاحـي سپارښـتنې ورتـه اسـتول شـوې دي.

پـه ۱۳۹۹ مـالي کال کـې، د اداري اصلاحاتـواو ملکـي خدمتونـو خپلـواک کمېسـيون د تقنيـن رياسـت لخـوا د وزارتونـو او د ملکـي خدمتونـو ادارو تـه (۵۸۹) حقوقـي مشـورې ورکـړل شـوې دي.

## په دولتي ادارو کې د کاري پروسو ښه والی

**په دولتي ادارو کې لاندې کاري پروسې ښې شوې دي.**

**۱. کرنې اوبولګولو او مالدارۍ وزارت:**

ځلورو کاري پروسـو لپـاره د بديلـو طرحـو وړانـدې کـول: د کرنيـز نندارتـون جـوړول، د ځنګلونـو، څرځايونـو او سـاتل شـويو ساحو او ټولنو ثبـت او تاسيس

**۲. د کار او ټولنيزو چارو وزارت:**

د اتـو کاري پروسـو شـننه او تجزيـه او د بديلـې طرحـې وړانـدې کـول: لـه دولتـي روزنتونونـو څخـه خصـوصي تـه تـه د ايتامـو تبديـلي او باالعکس د خصـوصي روزنتونونـو د ثبـت او راجسـتر پروسـه، پـه دولتـي روزنتونونـو کـې د شـموليت پروسـه، (لـه ښـوونځيو منتقـل جديـد الشـمول)، د خصـوصي وړکتونونـو فعاليـت جواز وېش پروسـه، د وړکتونونـو او روزنتونونـو ښـوونکو د تبديلـۍ پروسـه، د کارمونـدنې خصـوصي شرکتونـو فعاليـت جواز وېش پروسـه او د فنـي حرفـوي روزنيـزو مرکزونـو د فعاليـت جـواز وېش پروسـه.



کار او ټولنیزو چارو وزارت کې د پروسو ساده کولو کار

**۳. صنعت او سوداګرۍ وزارت:**

د دوه منتخبـو پروسـو بديـل طرحـې وړانـدې کـول: لـه ترجيحـي تعرفـې د کار اخيسـتو لپـاره د توليـدي شرکتونـو د سـندونو شـننه او پـه بندرونـو کـې د بـار چالانـې شرکتونـو د ځانګـو جـوړول.



صنعت او سوداګرۍ وزارت کې د پروسو ساده کولو کار

**۴. عامې روغتيا وزارت:**

د (۹) کاري پروسو بديل طرحې وړاندې کول: پـه مرکـز کـې د درملـو توليـد فابريکـو جـوړول، پـه مرکـز کـې د درملـو توليـد فابريکـو پېـر او پلـور، پـه مرکـز کـې د درملتونونـو د نـوم بدلـون پروسـه، پـه مرکـز کـې د درملتونونـو د لوحـو او د مهـر اخيسـتو او تجديـد پروسـه، پـه مرکـز کـې د درملـو عمـده پلورنـې د نـوم بدلـون پروسـه او پـه مرکـز کـې د درملـو عمـده پلورنـې د لوحـې او مهـر اخيسـتو او تجديـد پروسـه.

**۵. د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت:**

د کاري پروسـې بديـل طرحـې وړانـدې کـول: پـه مرکـز کـې راسـتنېدونکو تـه د بـشري مرسـتو وېشـل، پـه ولايتونـو کـې راسـتنو شـويو تـه د مرسـتو وېشـل، پـه مرکـز کـې بـې ځايـه شـويو تـه د مرسـتو وېشـل او پـه ولايتونـو کـې بـې ځايـه شـويو تـه د مرسـتو وېشـل.

**۶. د پوهنې وزارت:**

د HRMIS الکترونیکي ماډیول سیستم کې د شاملولو په موخه، د پوهنې وزارت د بشري سرچینو پراختیا په ریاست کې د (۱۵۳) عنوان پروسو پېژندنه، د (۶۳) پروسو فعلي جریان تثبیت، د نظر غوښتنې او تایید لپاره، د اړوندو برخو مسؤولینو سره له لومړیتوبونو سره د (۱۰) تثبیت شویو پروسو شریکول.

دغه راز، دافغانستان اسلامي جمهوري کابینې د ۲۹/۱/۱۳۹۷ نېټې (۲) شمېرې مصوبې (۱۱) فقرې (۱) جز د تطبیق په موخه، (واحد چتر لاندې د جواز صادرول) د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د جواز ورکولو (۳۴) پروسو بدیل طرحه، د عامې روغتیا وزارت د ۹ پروسو او د کار ټولنیزو چارو وزارت جواز ورکولو (۳) پروسو د د صنعت او سوداګرۍ وزارت فکري مالکیت مرکزي ثبت عمومي ریاست او یادو وزارتونو له کاري ټیم سره په همغږۍ کې، اصلاح او ساده سازي شوې ده.

## د الکترونیکي حکومتوالۍ ښه والي

د ملي سیستم تطبیق او پراختیا طرحه او ډیزاین او د بشري سرچینو معلوماتو مدیریت لپاره په ټولو ولایتونو کې د لاس رسي وړ، د HMRMIS بشري سرچینو مدیریت پراختیا چې پکې (تشکیل، بایو ګرافیک، سوانح، د دندو لایحې، حاضري او ورکړې، د کاراخیستوونکومدیریت او سیستم مدیریت) ماډیولونه پکې شامل دي، د ملکي خدمتونو په ټولو ادارو او وزارتونو کې د تشکیل ماډیول تطبیق او اړوندو ادارو لخوا په ادارو او وزارتونو کې د سیستم له تطبیق وروسته د HRMIS په سیستم کې له ثبت شویو معلوماتو کار اخیستو پیل، د الکترونیکي حکومتوالۍ په برخه کې د کمېسیون له کړنو څخه دي.

د انساني سرچینو د اطلاعاتو مدیریت په سیستم د ملکي خدمتونو کارکوونکو بنسټیزو اطلاعاتو له ثبت وروسته، کمېسیون له دغو اطلاعاتو د کار اخیستو او نوي ساتلو لپاره، وزارتونو/ ادارو ته د دغه سیستم د سپارلو بهیر پیل کړ. هغه اداري چې دغه سیستم ورته سپارل شوی شمېر یې ۳۰ ته رسېږي او پاتې ادارو ته د سیستم سپارلو پروسه دوام لري. د انساني سرچینو د اطلاعاتو مدیریت سیستم سپارلو پروسه، د ۱۴۰۰ ورې میاشتې پورې بشپړېږي.

هغه اداري چې د معلوماتو تشکیل یې په سیستم کې ثبت شوی، شمېر یې ۵۸ ادارو ته رسېږي. هغه اداري چې د کارکوونکو بایو ګرافیک معلومات یې په سیستم کې ثبت شوي دي، شمېر یې ۵۱ ته رسېږي.

**432,249**

د ملکي خدمتونو ادارو مجموعي تشکیل

هغه شمېر کارکوونکي چې د بایو ګرافیک او بایومټریک معلومات یې تراوسه راټول او په سیستم کې ثبت شوي دي.

**317,700**




د لوړ رتبه بستونو شمېر




د جنسیت په تفکیک کارکوونکي

دغه چارټ ښیي چې د ملکي خدمتونو اداره، د ځوان ظرفیت لرونکو اداره ده او ډېری کارکوونکي یې له ۴۰ کلونو کم دي.




د ملکي خدمتونو ادارو کې د ښځینه کارکوونکو د سن اوسط



د تحصیلي درجې په تفکیک نارینه او ښځینه کارکوونکي


د کوچیانو انسجام چارو اداري د بایومتریک اطلاعاتو د ثبت پروسه

## د انساني سرچینو مدیریت پراختیا

### د کلنیو اجراآتو ارزونې لپاره د بشپړې کار دود طرحه

د ملکي خدمتونو کارکوونکو د اجراآتو ارزونې پروسه چې له تېرو دیارلسو کلونراهیسې ورباندې بیا کتنه نه وه شوې، له دې وروسته د یوه بشپړ کار دود له مخې او د ملکي خدمتونو نظام د اړتیاوو په پام کې نیولو سره، ترسره کېږي.


دولتي ادارو بشري سرچینو رییسانو ته د اجراآتو ارزونې نوي کړنلارې توضیح

د ملکي خدمتونو کارکوونکو د اجراآتو ارزونې په نویو فورمو کې چې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون لخوا د کار او ټولنیزو چارو وزارت او نورو اړوندو وزارتونو او ادارو سره په تفاهم کې طرحه شوې دي، د حساب ورکولو او شغلي خوندیتوب ترمنځ انډول پکې په پام کې نیول شوی دی.

د ادارو ملي پراختیایي ستراتیژۍ سره مطابقت کې د اساسي فعالیتونو تعیینول، د (ب) ردیف مامورینو لپاره د اداري فساد پروړاندې د مبارزې او ښې حکومتوالۍ په برخه کې د اساسي فعالیتونو پیمایش وړ شاخصونو تعیینول، د کارکوونکو سلوک دوړل ارزونې لپاره د روښانه شاخصونو تعیینول، د ادارو او ... دویمو واحدونو (ب) ردیف مامورینو د اجراآتو ارزونه کې دوالیانو د ونډې مشخص کېدل، د نویو اجراآتو پروسې له مهمو ټکو بلل کېږي.

د ملکي خدمتونو کارکوونکو اجراآتو ارزونې کار دود کې د نویو بدلونونو په راتلوسره، تمه کېږي په ادارو کې د مجازاتواو مکافاتو اصل منطقي او کرنو له مخې شي، له مسؤولیت منلو سره د خلکو ته د خدمتونو وړاندې کول، شفافیت او ډېر ځواب ویل ترسره شي او په دولتي بنسټونو کې د خلاقیت او نوښت فرهنګ پراخ شي.

د نوي کار دود له مخې، د ملکي خدمتونو کارکوونکو روزنیز اړتیاوې او وړتیاوو پراخوالی، واقعبینانه او اغیزمنه توګه تشخیص کېږي او د ملکي خدمتونو مامورین اړکېږي څو له واضح شاخصونو او اساسي فعالیتونو سره د دندو له لایحو پراخ کار وکړي.

د ملکي خدمتونو کارکوونکو کلنیو اجرااتو ارزونه کې د نویو اصلاحاتو له مخې، له دې وروسته د ادارو د ب ردیف مامورین هم په خپل وخت د اطلاعاتو وړاندې کولو په برخه کې د کار ځرنګوالي په اړه ارزول کېږي. دغه اصلاحي اقدام په حکومتوالی کې د شفافیت او اداري فساد پروړاندې د مبارزې په برخه کې پورته شوی دی.

**د کاري اجرااتو ارزونه راپور**

کمېسیون د ملکي خدمتونو ورودي کچې، منځنۍ کچې او لوړ رتبه بستونو ۷۳۳ تنو کارکوونکو د اجرااتو د ارزونې څارنه کړې. دغه راز، تغییر پروګرام کې شاملو مامورینو اختصاصي اجرااتو ارزونې لارښود ترتیب چې له مخې یې د مرکزي ادارو تغییر پروګرام کې شامل (۲۷۲) تنو اختصاصي اجرااتو ارزونې بهیر څارنه شوې.

د مرکزي ادارو بېلابېلو برخو (۴۲۷) تنو مامورینو ته د ملکي خدمتونو مامورینو د اجرااتو ارزونې په اړه روزنیز پروګرامونه جوړ شوي دي.

دغه راز، کمېسیون ۴۸ وزارتونو او ادارو د بشري سرچینو ریاستوته چې د وضعیت شنني پروسې لاندې وې، د اصلاحي سپارښتنو بستې استولي دي.

## د مکافاتو فرهنګ پیاوړتیا

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون دغه راز، په ۱۳۹۹ کال کې د بشري سرچینو غوره ریاست، د بشري سرچینو غوره رهبر اود ملکي خدمتونو ادارو غوره طرحه، د تندیسونو، ستاینلیکونو سره و ستایل. دغه پروګرام د مکافات فرهنګ پیاوړتیا په موخه، انګیزې ورکولو او د بشري سرچینو واحدونو کارکوونکو ترمنځ د سالمې سیالۍ زیاتوالي په موخه ترسره شو.

د لوړو زده کړو وزارت د بشري سرچینو ریاست او د کلیو پراختیا او بیارغاونې وزارت بشري سرچینو ریاست چې د امتیازاتو له مجموعې یې لوړ امتیازات اخیستي، د «د ملکي خدمتونو ادارو غوره ریاستونو» تندیس ترلاسه کړی.

د احصایې او معلوماتو ملي اداري د بشري سرچینو رییسې منیلا حکیمې چې د معیارونو له مخې یې لوړ امتیازات ترلاسه کړي، د «د مرکزي ادارو بشري سرچینوغوره رهبرې» په توګه او د پروان ولایت بشري سرچینو رییس نذیر محمد پویا د لوړ امتیاز په ترلاسه کولو سره، د «ولایتي ادارو بشري سرچینو غوره رهبر» په توګه یې تندیس او ستاینلیک ترلاسه کړ.

په همدې توګه، د «بشري سرچینو غوره طرحه» تندیس او ستاینلیک د هرات ولایت اداري د ظرفیت لوړولو او پراختیا امر نور الحق احمدي ته ورکړل شو.



ملکي خدمتونو بشري سرچینو غوره ریاست، غوره رهبر او غوره طرحې ته د تندیس ورکړې پروګرام


ملکي خدمتونو بشري سرچینو غوره ریاست، غوره رهبر او غوره طرحې ته د تندیس ورکړې پروګرام

د ملکي خدمتونو ادارو د غوره ریاست، غوره رهبر، او بشري سر چینو غوره طرحه، په دوه پړاوونو کې د یو شمېر معیارونو په ټاکلو، د ادارو بشري سرچینو واحدونو ته د پوښتنپاڼو په وېشلو سره و پېژندل شوه. د غوراوي په پروسه کې، د ادارو د بشري سرچینو پراختیا او پیاوړتیا، د نوښت رامنځ ته کولو په برخه کې د ادارو بشري سرچینو ریاست کړنو، همغږی، مراجعینو ته د غوره خدمتونو وړاندې کولو ، د کارکوونکو روغتیا او خوندیتوب تامین او... د کړنلارو او پروګرامونو طرحې کولو معیارونه پکې په پام کې نیول شوي دي.

## په ملکي خدمتونو کې د ښځو ملاتړ

### د سندونو په برخه کې

• په کار ځای کې د ښځو د ازار او اذیت د شکایتونو څېړلو کړنلاره، طرحه، تعدیل او بیاکتنه وربانديې وشوه. په همدې توګه، د ملکي خدمتونو په ادارو کې په وخت سره د ښځو د ازار او اذیت قضیاوو مدیریت او رسېدنې لپاره د لویې څارنوالۍ د د ازار او اذیت پروړاندې مبارزې څارنوالۍ او ښځو چارو وزارت سره په تفاهم کې د ملکي خدمتونو په ادارو کې د ښځو د ازار او اذیت د شکایتونو رسېدنې میکانیزم جوړ شو.

• د ملکي خدمتونو په ۲۷ ادارو (لویه څارنوالۍ، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ، مشرانو جرګې، پلټنې عالي ادارې، کار او ټولنیزو چارو وزارت، ملي راډیو تلویزیون، سترې محکمې، سیمه ییزو ارګانونو اداره، پارلماني چارو کې د دولت وزارت، کرنې اوبولګولو او مالدارۍ وزارت، ښارجوړولو او ځمکې وزارت، ارشاد حج او اوقافو وزارت، معلوماتو او احصایې ملي اداره، کلیو پراختیا او بیا رغاونې وزارت، صنعت او سوداګرۍ وزارت، اقتصاد وزارت، اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، اټومي انرژۍ اداره، د انرژۍ خدمتونو ملي اداره، سرحدونو او قبایلو چارو وزارت، د کوچیانو سمون چارو ریاست، ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون، کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت، ټولګټو وزارت، ښځو چارو وزارت، ترانسپورټ وزارت او داوسپنې پټلۍ اداره) کې د ښځو مشارکت زیاتوالي پالیسۍ د تطبیق څرنګوالي څارنه وشوه.

• د ۱۳۲۵ پرېکړه لیک عملیاتي پلان نهایي او د بهرنیو چارو وزارت ته واستول شو.

• د ښځو په برخه کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون پېنځه کلن راپور ترتیب شوی او د ښځو چارو محترم وزارت ته واستول شو.



په ملکي خدمتونو کې د ښځو مشارکت پالیسي پروګرام او کار ځای کې د ښځو ازار او اذیت شکایتونو څېړلو کړنلارې معرفي

### فعالیتونه

• د ملکي خدمتونو په ادارو کې د ښځو وضعیت سروې تطبیق په برخه کې، د شکایتونو څېړلو بورډ کمېشنر او د ملکي خدمتونو عمومي رییس په شتون کې، انلاین غونډه وشوه او د سروې تطبیق څرنګوالي په اړه بحث وشو.

• د ملکي خدمتونو پرېکړې نیولو او رهبرۍ په کچه د ښځو د کم رنګه شتون د علتونو او عواملو د موندلو په اړه، د ادارو د بشري سرچینو د رییسانو، د ښځو ملاتړ برخې مسؤولینو، منځنۍ کچې بستونو ښځینه کارکوونکو، د دولتي او خصوصي پوهنتونو لوستو ښځو او په مدني بنسټونو کې د فعاله ښځو په شتون کې اته استماعیه غونډې جوړې شوې. برخوالو د پرېکړې نیولو او رهبرۍ په کچه د ښځو کم رنګه شتون د علتونو او عواملو په اړه د یوه تحقیقي پروګرام ترسره کولو په برخه کې خپلې موندنې او نظرونه څرګند کړل.

• دغه راز، د ملکي خدمتونو په ادارو کې د رهبرۍ په کچه د ښځو د کم رنګه شتون د عواملو پېژندلو په اړه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون د څېړنې ترسره کولو کې د همکارۍ په موخه، د ملکي خدمتونو لسو وزارتونو او ادارو ته یوه څېرنیزه ډله معرفي شوه.

• د ملکي خدمتونو ۶۰ وزارتونو او ادارو د ظرفیت لوړولو او جندر ۱۲۰ امرینو ته د الکترونیکي ګومارنې او د انلاین غوښتنې وړاندې کولو څرنګوالي سیستم معرفي کولو په نوم درې روزنیز پروګرامونه جوړ شول.

## د اصلاحاتو له تطبیق څارنه او ارزونه

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون په ۱۳۹۹ مالي کال کې، د څارنې او ارزونې سیستم په پراخولو سره، په لاندې برخو کې د اصلاحاتو د تطبیق څارنه کړې ده:

- په ۱٦ وزارتونو او خپلواکو ادارو کې د تغییر پروګرام ژمنو له تطبیق څارنه
- په ۱۳ روغتونونو کې د خدمتونو وړاندې کولو له څرنګوالي څارنه کوم چې رییسان یې د تغییر پروګرام له لارې ګومارل شوي دي.
- د کمېسیون ستراتیژۍ پرمختګ او تطبیق له څرنګوالي څارنه
- د کرونا ویروس خپرېدو مخنیوي لپاره د کاري رژیم تنظیم کړنلارې د تطبیق له څرنګوالي څارنه
- د چاپېریال ساتنې په ملي ادارې، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون او د تخنیکي او مسلکي تعلیماتو په اداره کې د ساده شویو کاري پروسو د تطبیق څارنه، د ننګونو او ستونزو تشخیص، د کاري پروسو د ساده کولو بهیر ښه والي لپاره د طرحو او وړاندیزونو وړاندې کول.
- په فراه ولایت د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون دفتر د اجراآتو څرنګوالی او اصلاحاتو پروګرام څېړل

## د تغییر پروژې فعالیتونه او لاسته راوړنې

د تغییر پروژه (Tackling Afghanistan Government HRM and Institutional Reform – TAGHIR) د لومړیتوب لرونکو ادارو او وزارتونو د ظرفیت لوړولو په موخه، د کلیدي بستونو د ګومارنې له لارې د وړتیاوو، د کارکوونکو مدیریت او د بشري سرچینو پلان ګذارۍ د ښه والي په موخه ترسره شوې ده.

د مالي محدودیت له امله، د تغییر پروژې ۱٦کلیدي ، عایداتي او ډېر مصرف اداري د خپل ملاتړ په لومړیتوبونو کې راوستې دي. د دې سربېره، هغو وزارتونه او ادارې چې لومړیتوب کې شاملې نه دي، یو شمېر هغه بستونه چې متصدیانو یې ښځې دي، تخنیکي بستونه او د کلیدي دندو لرونکو بستونه (Common Function) ملاتړ لاندې راوستي دي او د مخکې ټاکل شویو معیارونو او شاخصونو په پام کې نیولو سره ٦۰۰ بستونو لپاره (۳۰۰۰) کلیدي دندې (key Deliverables) او اثباتیه شواهد (Means of Verification) د اداري اساسي موخو د دندو لایحې مطابق، له مستقیم امر سره په همغږۍ کې ترتیب شوي دي. دغه راز، د تغییر پروژې د دغې پروژې تر پوښښ لاندې ۱٦ وزارتونو/ ادارو لپاره دوه ډوله عمومي او اختصاصي ژمنې د (۲۰۱۹) کال پروژې په پیل کې د ادارو د ځواب ورکولو لپاره ټاکلي دي.

**۱. عمومي ژمنې (Common Benchmark)**

دغه ژمنې د قرار دادي (NTA) کارکوونکو د شمېر کمولو شاخصونه، د پراختیایي بودیجې لګښت کچې زیاتوالی، د بشري سرچینو مدیریت معلوماتي سیستم (HRMIS) تطبیق اسانتیا او د وزارتونو او ادارو بېلابېلو برخو کې د ښځو شتون زیاتوالی، په ټولو وزارتونو او ادارو کې په یو شان د تطبیق وړ دي.

**۲. اختصاصي ژمنې (Specific Benchmark)**

اختصاصي ژمنې د وزارتونو/ ادارو کاري ماهیت مطابق ترتیب شوي دي او د عایداتو شاخصونو په توګه، اجرایي پروسو ساده کولو، خدمتونو وړاندې کولو، معیاري کولو، په هېواد کې د خصوصي سکټور پیاوړتیا او د دندو جوړښت بیاکتنه کېږي او د یادو ژمنې تطبیق په کال کې دوه ځلې ارزول کېږي.

په ۱۳۹۹مالي کال کې د وزارتونو/ ادارو د ژمنو تطبیق څرنګوالي ارزونه د اجرا په حال کې ده او تفصیلي راپور یې د ارزونې بهیر له بشپړېدو وروسته وړاندې کېږي.

**د متوقعه پلاني موخو په برخه کې اجراات**

**۱. د تغییر پروژې پوښښ لاندې د وزارتونو او ادارو بشري سرچینو زیاتوالی**

په مجموعي ډول ۴۴۱ تش بستونه چې مخکې د اختصاصي کمېټې لخوا په نښه او له دې لارې طی مراحل وړ بلل شوي دي چې د ۱۳۹۹ مالي کال شپږو میاشتو کې ٦۹ بستونه چې د بېلابېلو وزارتونو او ادارو اړوند ۱،۲،۳ بستونه چې د تغییر پروژې ملاتړ لاندې دي، طی مراحل شوي او اړوند وزارتونو او ادارو ته معرفي شوي دي چې د دغو بستونو ۱٦ سلنه یې د ښځو دي.

**۲. په تغییر پروژه کې شامل بستونو د ګومارنې پروسه کې د شفافیت رامنځ ته کول**

د شفافیت اصل د تامین او د ازادو او عادلانه سیالۍ اصولو لپاره، تغییرپروژې بشري سرچینو ستراتیژیک پلان کې شاملو ټولو بستونو ګومارنه د کیفیت تضمین څېړلو تابع( Recruitment Quality Assurance ) د تمویل مرجع لخوا دي. دغه کار د کیفیت تضمین څېړلو ډلې لخوا د نړیوال بانک په نیابت عملي کېږي او تراوسه ۱۳۵ طی مراحل شوي بستونه څېړل شوي دي.

**۳. د الکترونیکي ازموینو منځپانګې بډاینه (د ازموینو منځپانګې جوړول او څېړل)**

ځرنګه چې د ازموینو د منځپانګې جوړول او څېړل ډېر اهمیت لري، نو له دې امله د ازموینو دمنځپانګې جوړولو او څېړلو مرکز (ECRDC) د تغییر پروژې ملاتړ لاندې دي او د تخنیکي حمایوي ګومارنې (TA) د چارې په کارونې سره، مسلکي او حرفوي کادرونه ځای پرځای شوي او دغه راز، د یاد مرکز تشکیل کې د ننه بستونه له دې لارې تمویل شوي، څو بنسټیز اصلاحات تطبیق او د ازموینو منځپانګې بډاینې، او د دغه مرکز د ازموینو وړتیاوو چوکاټ پراختیا او ترتیب کې مثبت بدلون رامنځ ته شي.

**۴. د تغییر پروژې پوښښ لاندې بشري سرچینو معلوماتو سیستم تطبیق، بایو متریک او معلوماتو درج.**

د تغییر پروژې سندونو مطابق د بشري سرچینو معلوماتو مدیریت سیستم (HRMIS) او د الکترونیکي حکومتوالۍ تطبیق، د تغییر پروژې تر هر اړخیز ملاتړ لاندې راغلی دی.



تغییر پروژې غونډه

د تغییر پروژې مالي وجوه له کارونې د کاري ساحو اړوند اړتیا له مخې، د تخنیکي دندو ترسره کولو، معلوماتو او ارقامو راټولو سره، د رقابتي ګومارنې اصل او مسلکي افرادو ټاکنې (Technical Assistance) په رعایت کولو سره د تکړه او اغیزناکو افرادو ملاتړ کېږي، د ټکنالوژۍ اړتیا وړ تجهیزات ابزار هم ورته برابر شوي دي.

**۵. د تغییر پروژې ملاتړ لاندې وزارتونو کې له اصلاحاتو او اغیزمنو او اغېزناکو جوړښتونو ملاتړ لپاره د وزارتونو او ادارو د دندو جوړښت بیا کتنه.**

ځرنګه چې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون په پنځه کلن ستراتیژیک پلان کې روښانه ده چې تغییر پروژې ملاتړ لاندې یو شمېر وزارتونه او ادارې د دندو جوړښت بیا کتنې تطبیق (Organizational Functional Review) لپاره په نښه او تثبیت شوې دي.

د تغییر پروژې د دغه بهیر اجرا لپاره، د کمیسیون د ملکي خدمتونو تشکیلاتو اصلاح ریاست، د تخنیکي مرستو بستونو (Technical Assistance) د تکړه او متخصصینو د ګومارنې له لارې ملاتړ کړی او د دندو بیا کتنې جوړښتي پروسه په پینځو پړاوونو کې عملي او تطبیق شوې ده چې له مخې یې د دغو موندنو له مخې پیشنهادي اصلاحي بدلونونه عملي شوي او یا هم په جریان کې دي.

## د اصلاحاتو او پراختیا لپاره څېړنه او اړتیا سنجونه

د ننني ځواب ویونکې، اغېزناکې او ښهروند محوره اداري ارمان، د افغانستان د سولې او پراختیا چارچوب دویم سند او اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون ستراتیژیک پلان مطابق د اصلاحاتو لومړیتوب او پراختیا په لیدلوري بدل شوی دی. د دغه ارمان عملي کول ایجابوي څو په علمي څېړنه کې د ورکې شوې کړۍ په توګه د پرېکړې نیولو او اصلاحاتو پروګرام د یوه چورلیز په توګه رامنځه ته شي. په دې برخه کې د څېړنیزو فعالیتونو انسجام او روزنیزې اړتیا سنجونې میکانیزم ستراتیژیک لومړیتوب دی څو د خوځنده، حساب ورکوونکو او پراخو ادارو له لارې عامه خدمتونو ته په برابر، اسانه او چټکه توګه د خلکو لاس رسي علمي او څېړنیز ملاتړ پیدا کړي.

په دې برخه کې د «افغانستان ملکي خدمتونملي شاخصونو Afghanistan Civil Service Index» له لارې د ادارو فعلي وضعیت ارزولو سیستم رامنځ ته کول او اړتیا سنجونې اغیزناک میکانیزم چې په منسجم ډول ظرفیتونو باندې د لومړیتوبونو پانګونه برابره کړي؛ د ملکي خدمتونو انستیتیوټ لپاره اساسي لومړیتوب لري.

### روزنیزه اړتیا سنجونه



ملکي خدمتونو انستیتیوټ او د شهید استاد برهان الدین رباني ښووني او روزني پوهنتون ترمنځ د تفاهم لیک لاسلیک

د ملکي خدمتونو انستیتیوټ په ۱۳۹۹ کال کې د تېرو تجربو، د نورو هېوادونو هر اړخیزو تجربو مطالعې، ملکي خدمتونو ادارو او اهل خبره سره د مشورو په پام کې نیولو سره، د اړتیا سنجونې ملي میکانیزم پراخ کړی چې له مخې یې د ادارو په ظرفیتي اړتیاوو باندې اغیزناکه پانګونه وشي. د اړتیا سنجونې نوی میکانیزم د اړتیا سنجونې معیاري چارو ګډې کړنې دي چې په پنځو ساحو ( سازماني پراختیا، تعلق احساس، ګډ کار، ښهروند محوري او اساسي مهارتونه) کې ادارو سره د ظرفیتي اړتیا سنجونو په برخه کې مرسته کوي.

ښځو چارو وزارت، علومو اکاډمۍ، د تخنیکي او مسلکي تعلیماتو اداري او د اوبو تنظیم ملي اداري کې نوی میکانیزم چې د دغو ادارو د ۲-۵ بستونو نږدې ۴۰۰ تنه کارکوونکي یې تر پوښښ لاندې راوستي دي. تاکل شوې چې د ملکي خدمتونو ادارو د اړتیا سنجونې عمومي راپور تر دوه میاشتو پورې تدوین شي چې له مخې به یې په ۱۴۰۰ کال کې ظرفیتي تشو ته د رسېدنې جامع طرحه جوړه او تطبیق شي.



ولایاتو کې اداري کار زده کړې ټولګې

د اړتیا سنجونې نوي میکانیزم محوري کرنه د همکارۍ اصل له مخې او د بشري سرچینو ریاست په تېره د ادارو ظرفیت لوړولو واحدونو فعالولو باندې ولاړه ده څو د دغو واحدونو اړتیا سنجونې له لارې تر ډېره د ظرفیتونو پراختیا ونډه پر غاړه واخلي، په دې برخه کې د ملکي خدمتونو انستیتیوټ د ډېرو ادارو ظرفیت لوړولو ۱۲۶تنو کارکوونکو ته په ۵ دورو کې د اړتیا سنجونې نوي میکانیزم او تطبیقي چارو سره د بلد تیا په ۵ پراوونو کې ورکشاپ جوړ کړ.

### څـــېړنې

په ۱۳۹۹ مالي کال کې د ملکي خدمتونو انستیتیوټ د عامه اداري مسایلو په اړه د اکاډمیکو بنستونو په همکارۍ د ۲۵ موردي څېړنو طرحه پراخه کړې څو د ځوان او متخصص ځواک په کاروني سره، علمي څېړنې د پالیسۍ په کچه د پرېکړې نیولو ملاتړي په توګه تولید او پراخې کړي. په دې برخه کې انستیتیوټ له دولتي او خصوصي پوهنتونونو، څېړنیزو او علمي بنستونوسره کاري اړیکې پراخې کړې او چې تفصیل یې د دغه راپور د اړیکو پراختیا په برخه کې راغلی دی.

په همدې توګه په ۱۳۹۹ کال کې د ملکي خدمتونو انستیتیوټ د ملکي خدمتونو اجرااتو ارزونې ملي شاخص طرحه (National Civil Performance Index) پراخه کړې چې له مخې یې د روښانه شاخصونو مطابق په ادارو کې د اصلاحاتو پرمختګ په کلني ډول ارزول کېږي او هر کال له ذیدخله اړخونو سره د دوامداره بحثونو ارزونه کېږي څو نظرونه، وړاندیزونه

او موندنې په نظامند ډول د اصلاحاتو بهیر سره مرتبط شي او د متقابله حساب ورکولو روښانه میکانیزم جوړ شي. په ادارو کې د ملکي خدمتونو اجرااتو ارزونې ملي شاخص د ادارو د اجرااتو درې اساسي حوزې به وڅېړي. دغه راز، د ملکي خدمتونو انسټیټوټ د پوهنې له وزارت او چاپېریال ساتنې ملي ادارسره دوه موردي څېړنې ترسره کړې چې ابتدایی موندنې، شننې او د راپور مسوده یې جوړه شوې چې له نهایی کېدو وروسته به د وړاندیزونو بستې او موندنې له ادارو سره شریکې شي.

## د سرچینو او خلاقیت مرکز

په ۱۳۹۹ لمریز کال کې د ملکي خدمتونو انسټیټوټ د انسټیټوټ د سرچینو مرکز د پېژندنې، تثبیت او خلاقیت ترویج لپاره د ملکي خدمتونو په ادارو کې جوړ کړی. دغه مرکز کې کتابتون، د انټرنیټ او کارکوونکو او مراجعینو لپاره د څېړنو اسانتیاوې شاملې دي. د دغه مرکز یوه مهمه موخه، د زده کړې فرصت برابرول او ملکي خدمتونو کارکوونکو لپاره د خلاق تفکر پوټنشیل پراختیا ده.

په ۱۳۹۹ مالي کال کې په دې برخه کې د سرچینو مرکز لپاره د عامه اداري موضوعاتو مرتبط ۳۳۵ ټوکه کتابونه اخیستل شوي دي. په همدې توګه، د انسټیټوټ سرچینو مرکز پیاوړتیا او د ملکي خدمتونو ادارو کې د تحقیق او خلاقیت رواجولو لپاره، د ملکي خدمتونو انسټیټوټ د شهید استاد برهان الدین رباني له پوهنتون سره د همکاریو تفاهم لیک لاسلیک کړ، څو د دغه تفاهم لیک له مخې، د ماسټرۍ او لیسانس کچې نږدې ۱۰۰ تنو محصلینو ته د افغانستان د عامه اداري په اړه د څېړنو او تحقیق فرصت برابر کړي څو په دې برخه کې د انسټیټوټ په همکارۍ علمي اثار تولید شي. دغه راز، انسټیټوټ د ازموینو د منځپانګې جوړولو او څېړنو مرکز او د کمېسیون تعییناتو بورډ په مرسته نږدې ۳۰۰ تنو محصلینو ته د ګومارنې او الکترونیکي ازموینې په اړه د عامه پوهاوي پروګرام جوړ کړی.

د انسټیټوت د سرچینو مرکز د مطالعې مهارت، ښځو لپاره د وړتیاوو ښکاره کولو او تثبیت، انګلیسي ژبې، کمپیوټر، خلاق تفکر پروګرامونه او د اروا پوهنې او ځان پوهنې ورکشاپونه پراخ کړي دي. چې په ۱۴۰۰ کال کې د ملکي خدمتونو په ادارو کې د خلاقیت تشویق لپاره عملي شي. په همدې توګه، انسټیټوټ هڅه کوي څو د انسټیټوټ د سرچینو مرکز د څېړنیزو او اکاډمیکو بنسټونو په همکارۍ د افغانستان د عامه اداري په اړه د علمي او څېړنیزو سرچینو په مجتمع بدل کړي.

### له ملي او نړیوالو بنسټونو سره همکاري

په دې برخه کې تراوسه په هېواد کې د ننه او بهر له دولتي او خصوصي بنسټونو سره اړیکې ټینګې او د پراختیا په حال کې دي چې کولای شو د جاپان یورشیما پوهنتون، انقرې پوهنتون، د افغانستان امریکایي پوهنتون، کاردان پوهنتون، دنیا پوهنتون او شهید استاد برهان الدین رباني پوهنتون یادونه وکړو. په همدې توګه په هېواد کې د ننه او بهر له څېړنیزو بنسټونوسره د همکارۍ کچه پراخه شوې چې له هغې جملې د افغانستان څېړنې او تولنیزې شننې (OSRAA) مؤسسه (DROPS) مؤسسه، (GIZ) مؤسسه، د ملي تدارکاتو انسټیټوټ او کلیو پراختیا انسټیټوټ یادونه وکړو. په دې ترڅ کې د علمي اثارو، ګډو څېړنو ترسره کولو، د اړتیا سنجونې او څېړنو ترسره کولو په برخه کې د ټکنالوژۍ کارونې، له معلولینو او د پولیسو شهیدانو ورځو او له ملي بنسټونو سره د کار زده کړې پروګرامونو تولید په برخه کې د همکارۍ ٦ تفاهم لیکونه لاسلیک شوي دي.

## له نړیوالو پراختیایي شریکانو سره د ژمنه شویو شاخصونو تطبیق

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون د ۱۳۹۹کال په ترڅ کې دافغانستان اسلامي جمهوري دولت او نړیوالې ټولنې ترمنځ ژمنه شوي شاخصونه د دغه کال لپاره اجرا کړي دي. دغه ژمنې په لاندې سندونو کې تنظیم شوې او د عامه اداري اصلاح، حکومتوالی پیاوړتیا، په ادارو کې د ښځو شتون زیاتوالي او پیاوړتیا په برخو کې فعالیتونه را نغاړي:

- **د جینوا متقابله حساب ورکولو چارچوب (Geneva Mutual Accountability Framework)**

د جینوا متقابله حساب ورکولو چارچوب په ځان بسیاینې باندې د افغانستان بدلېدو لپاره طرحه شوی او د ۱۳۹۷لمریز کال د لیندی په ۶ـ۷ (۲۰۱۸ کال نوامبر ۲۷ـ ۲۸) د افغانستان حکومت او نړیوالو پراختیایي شریکانو ترمنځ ورباندې توافق شوی دی. د ملکي خدمتونو په ادارو کې د ښځینه کارکوونکو فیصدی مجموعي زیاتوالی، د کمېسیون پینځه کلنې ستراتیژۍ جوړول، د ورتیاوو له مخې د گومارنې زیاته پیاوړتیا، د ملکي خدمتونو کارکوونکو معاشاتو برابروالي پالیسی تطبیق او نهایي کول او د Taghir پروژې له لارې د مجربو کارکوونکو گومارل د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون د ژمنو له جملې څخه دي چې تطبیق شوي او دغو موخو ته د رسېدو لپاره د پام وړ پرمختگونه شوي.

- **د افغانستان او اروپايي ټولنې ترمنځ د دولت جوړونې قرار داد (State and Resilience Building Contract)**

د افغانستان دولت او اروپايي ټولنې ترمنځ د دولت جوړونې قرار داد حکومت سره د جامع اصلاحاتو د تطبیق په برخه کې مرسته کوي. د مالي کادر او تفتیش کادر د مقررې نافذېدل، په وزارتونو او ادارو کې په لومړی او دویم رتبه لوړ رتبه بستونو کې د ښځو ونډې اته سلنې زیاتوالی، د ملکي خدمتونو ۹۵سلنه کارکوونکو بایو متریک بهیر ثبت او بشپړېدل، د گمرکونو کادر مقررې پر اساس د گمرکونو کارکوونکو گومارل، د ښځو د ازار او اذیت مخنیوي قانون تطبیق څخه څارنه او د ملکي خدمتونو انستیټوټ په روزنیزو پروگرامونو کې د دغه قانون شاملول، په دغه پروگرام کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون له ژمنو څخه دي چې اجراء شوي دي او د تطبیق بهیر به یې د ۲۰۲۱ کال مارچ میاشتې پورې دوام وکړي.

**راتلونکو پینځو کلونو لپاره د نویو شاخصونو نهایي کول**

د ۲۰۲۱ ـ ۲۰۲۵ کال لپاره د افغانستان د سولې ملي چارجوب دویم سند (ANDPF ) او د افغانستان مشارکت چارچوب (APF) سولې ته رسېدل، ځان بسیاینه او دافغانستان د خلکو هوساینې په شمول په درې موخو ولاړ دی او د ۲۰۲۰ کال د نوامبر ۲۳ـ۲۴ د جینوا په کنفرانس کې دافغانستان حکومت او نړیوالو شریکانو ترمنځ ورباندې هوکړه شوې ده. د اداري اصلاحاتو اوملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون د یادو سندونو جوړولو او نهایي کولو په جریان کې فعاله ونډه اخیستې ده او خپل نظرونه یې د ژمنو په اړه له پراختیايي شریکانو او د افغانستان حکومت ته وړاندې کړي دي.

## د دندو لایحو بیا کتنه او شننه

د ۵٦ وزارتونو/ ادارو د (۳۴۲۱) عنوان د دندو لایحو بیا کتنه

د ۲۳ وزارتونو/ ادارو د دندو لایحو ورته والي سلنې تثبیت شمېر، (۱۵۷) عنوان او ۱٦ حقوقي مشورې ژباړل شوې دي.

## ملکي خدمتونو په اداروکې بنسټ محوره ظرفیت روزنه

ظرفیت لوړولو ته دودیز نظر له «ځانګړې روزنې» څخه « پروګرام محوره ظرفیت روزنې او بنسټ منده» ته چې د «شبکې جوړولو» او «پیاوړې کولو» اړخونه هم را نغاړي، بدل شوي دي. ارزښت او سازماني فرهنګ ته د سازماني نوښت او زده کولو بدلولو لپاره، د ظرفیت روزنې منسجم میکانیزم پراخ شوي دي، څو له مخې يې د کمېسیون او ملکي خدمتونو ادارو ترمنځ د ظرفیت روزنې په برخه کې متقابله ارزونه او حساب ورکول ترسره شي. په دواړو اړخونو کې په ظرفیت روزنې پانګونه «بنسټ پراختیا» او «ملي پروګرامونو تطبیق» داسې لورى ورکړل شوی چې له دې لارې «بنسټ منده ظرفیت» پراخ شي او «ملي پروګرامونه» په اغیزناک ډول د ملکي خدمتونو ادارو لخوا تطبیق شي.

### له خدمت مخکې ظرفیت پالنه



د ملکي خدمتونو انستیټوټ کې اداري ستاژ پروګرام کار زده کوونکو نهمي دورې فارغین

د ملکي خدمتونو انستیټوټ په ۱۳۹۹ کال کې له خدمت مخکې پروګرامونو کړنچارو باندې بیا کتنه او هر اړخیزه شننه کړې چې په پایله کې اغیزناک میکانیزم طرحه او د دغو پروګرامونو اجرا رامنځ ته شوه. د نوي میکانیزم له مخې، د ملکي خدمتونو په انستیټوټ کې له خدمت مخکې د ظرفیت روزنې پروګرام د کار زده کړې روزنې (اداري ستاژ) او د ملکي خدمتونو بستونو داوطلبانو او مینه والو ته د لازمو وړتیاوو روزنې د رهبرۍ ځانګړي پروګرامونه را نغاړي. یا په بله وینا، دغه پروګرامونه دغه پروګرامونه د ملکي خدمتونو بستونو ترلاسه کولو لپاره په سیالیو کې د بشري سرچینو غوره مارکیټ چمتو کوي.

په ۱۳۹۹ مالي کال کې د ملکي خدمتونو انستیټوټ د ښکېلو خواوو په مرسته د لوړو زده کړو مؤسسو ۳۹۷ تنو ځوانو فارغینو ته د اداري ستاژ پروګرام جوړ کړی، څو د ملکي خدمتونو بستونو ترلاسه کولو لپاره سیالی ته جوګه شي. دغه روزنې عمدتاً د عامه اداري قانوني چارچوب، د مدیریت اساسي مهارتونو او ښې حکومتوالۍ ارزښتونو او پوهې باندې متمرکزې وې. د دغو کار زده کوونکو له جملې۲۴۸ تنه ښځې او ۱۴۹ يې نارینه وو چې د مرکز او ولایتونو ترمنځ د فرصت وېش خړنګوالي په برخه کې، نږدې ۹۷ سلنه کار زده کړه ولایتونو ته ځانګړې شوې ده.

### خدمت پرمهال ظرفیت پالنه

خدمت پرمهال ظرفیت پالنه په دوه برخو «بنسټ محوره ظرفیت پالنه» او «پروګرام محوره ظرفیت پالنه» باندې وېشل شوې چې لومړی په «سازماني پراختیا» او دویمه «پروګرامونو مدیریت» باندې متمرکزه ده. خدمت پرمهال ظرفیت پالنه هغه پانګونه ده چې د ملکي خدمتونو اداري په درې کلیدي ساحو «خلکو رضایت ترلاسه کول»، «سیستم پراختیا» او د «پروګرامونو او ملي پالیسي ګانو اجراء» په برخو کې د اغیزناکه اصولو، اصراف مخنیوي، د لاس رسي اسانتیا، په سیستماتیک ډول د فساد له منځه وړو فرصت او د خدمتونو وړاندې کولو چټکتیا په برخه کې مرسته کوي. د ملکي خدمتونو کادرونو روزنې جوړولو پروګرام، «ملکي خدمتونو ادارو د رهبرۍ انکشاف» او د «ملکي خدمتونو منځنۍ کچې اناث کارکوونکو لوړتیا» د انستیټوټ درې اوږدمهاله پروګرامونه دي.


د ملکي خدمتونو انستیټوټ اداري کار زده کړې نهمي دورې فارغین

د ملکي خدمتونو انستیټوټ د مقدماتي روزنیزو پروګرامونو او نورو هېوادونو د لنډې څېړنې او مقدماتي روزنیزو پروګرامون له تطبیق څخه د ترلاسه شویو تجربو او درسونو، د ادارو د بشري سرچینو له ریيسانو او څخه د نظر غوښتنې او مشورو د ملکي خدمتونو اساسي اصولو ځان زده کړې پروګرام پراخ کړی دی چې موخه يې د «تولنیزو»، «مدیریتي» او اساسي وړتیاوو له مخې د منسجم سازماني فرهنګ رامنځ ته کول او پیاوړتیا ده څو د حقوقي او د ملکي خدمتونو کارکوونکو (ب ـ د) ردیفونو کارکوونکو د ارزښي پوهاوي له لارې د اداري فساد له منځه وړو بهیر، جنسیتي تبعیض مخنیوي، خوندي کاري

چاپېريال رامنځ ته کولو، با کیفیته خدمتونو وړاندې کولو او خلکو رضایت جلبولو په برخه کې مرسته وکړي. دغه پروګرام په دوه برخو د عمومي اصولو زده کړه او اختصاصي اصولو زده کړه ده چې لومړۍ یې په خوداموزي ډول د وړتیاوو په لوړولو او دویمه یې نویو مقرر شویو کارکوونکو ته د اړینو معلوماتو په برابرولو تمرکز لري. په دې برخه کې د پروګرام طرحه، د پروګرام اجرایي کړنلاره، روزنیز مواد او له ادارو سره په همغږۍ کې د انستیټوټ لخوا د پروګرام تطبیق پلان تدوین شوي چې په ۱۴۰۰ کال کې به د ملکي خدمتونو ۲۵ سلنه کارکوونکي تر پوښښ لاندې راولي.

د ملکي خدمتونو انستیټوټ په ۱۳۹۹ کال کې د ملکي خدمتونو په ادارو کې د رهبرۍ ودې پروګرام پراخ کړی. ټاکل شوي دغه درې کلن پروګرام د (ب) ردیف ۱۰۰۰ کارکوونکي تر پوښښ لاندې راولي او هغه به دې د دې جوګه کړي څو اصلاحاتو لپاره د «عامل بدلون»، «پراختیا محوره» او «د خلکو رضایت متمرکز» ونډه په اغیزناک ډول ترسره کړي. دغه پروګرام د ظرفیت پالنې ۳۱ کریډېټ شامل دي چې د اداري د «نظام» پراختیا بهیر کې د رهبرۍ پیاوړتیا، «پروګرام» او «انساني سرچینو» باندې متمرکزه ده.

په ۱۳۹۹ لمریز کال کې د ملکي خدمتونو انستیټوټ ددغه ازمايښتي پړاو د « اجرايي بیروکرات څخه بدلون» د «پراختیا عامل بدلون» تر عنوان لاندې د مرکز او ولایتونو د زیربنا سکټور، بشري پراختیا، حکومتوالی او د ملکي خدمتونو اقتصادي سکټور ۱۰۰ تنوریيسانو ته جوړ کړ. د دغه پروګرام د برخوالو له جملې ۷۷ سلنه یې د ادارو ولایتي ریيسان وو. دغه پروګرام د متفاوته سکټورونو د ریيسانو ترمنځ د بحث او تجربو شریکولو فرصت د حکومتوالی او پروګرامونو مدیریت په اړه له پراختیایي کړنو سره فرصت رامنځ ته کړ.

**د ادارو اختصاصي اړتیاوو متناسبه ظرفیت پالنه**

د ملکي خدمتونو انستیټوټ په ۱۳۹۹ مالي کال کې د ادارو اختصاصي اړتیاوو له مخې، د ولایتونو د ښوونې او روزنې ۵۰ ریيسانو، د سرې میاشتې ۱۸ تنو کارکوونکو، د اقتصاد وزارت ۳۲ تنو کارکوونکو او د جمهوري ریاست چارو ادارې ۵۲ تنو کار کوونکو ته د ظرفیت پالنې پروګرام جوړ کړی دی. د دغو پروګرامونو جوړولو موخه په هغو کاري ساحو کې د موخې وړ ډلې ظرفیت لوړول وو چې د یادو ادارو لخوا د اړتیاوو د تشخیص له مخې غوښتل شوي وو. د ۱۵۲ تنو له جملې، نږدې ۲۰ سلنه کارکوونکي یې ښځې وې.

**د خدمت پیل کې ظرفیت پالنه**

له چاپېریال، فرهنګ او اداري باندې حاکمو اصولو سره د نویو مقرر شویو کارکوونکو انطباق، ځانګړې روزنې ته اړتیا لري څو له یوې خوا په خدمتونو کې انقطاع رامنځ ته نشي او بل پلو، په ادارو کې ډېر ژر کاري تګلورى پیدا کړي. په دې موخه، د ملکي خدمتونو انستیټوټ د ملکي خدمتونو په انستیټوټ کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو لپاره په حضوري ډول مقدماتي پروګرامونه جوړوي. د ملکي خدمتونو انستیټوټ په ۱۳۹۹ مالي کال کې د دغو پروګرامونو د اغیزناک والي لپاره، د دغې برخې اجرایي چارو او کړنو باندې بیا کتنه وکړه، څو له یوې خوا په دې برخه کې د ادارو او کمېسیون ترمنځ د ظرفیت پالنې مسؤولیت انډولیز شي او بل پلو د پروګرامونو اغیزناک والی لوړ شي. په دې اساس د ملکي خدمتونو انستیټوټ د ادارو د اختصاصي اصولو روزنې میکانیزم پراخ کړی چې له مخې یې د بشري سرچینو ریاستونو لخوا نویو مقرر شویو کارکوونکو ته د اداري لارې نقشې سره د بلدتیا، کاري ساحې باندې د حاکمو قوانینو، د شکایتونو څېړلو میکانیزمونو او نورو اړینو معلوماتو په اړه ځانګړي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

په دې برخه کې د ملکي خدمتونو انستیټوټ په ۱۴۰۰ مالي کال کې د ادارو د ظرفیت لوړولو واحدونو سره په ګډه کارکوي، څو د بشري سرچینو ریاستونو په همکارۍ د ۴۴ ملکي خدمتونو ادارو لپاره یو جامع لارښود پراخ کړي او په ادارو کې د لارښود له تطبیق څخه څارنه وکړي.

په همدې توګه په ۱۳۹۹ مالي کې د ملکي خدمتونو انستیټوټ د ملکي خدمتونو په اداره کې د پرېکړې نیولو په برخو کې د ښځو مشارکت پراخوالي لپاره، د منځنۍ کچې ښځینه مدیرانو لوړولو پروګرام (FMMDP) پراخ کړی چې له مخې یې د ملکي خدمتونو په ادارو کې د مدیریتي کچې ۳۰۰ تنه اناث کارکوونکو ته به روزنه ورکړل شي او تمه کېږي د دغه پروګرام په پای کې ۱۵۰ تنه اناث کارکوونکي د (ب ردیف ) بستونو ته لوړ شي.

**له هېواد څخه بهر د لنډ مهاله روزنیزو فرصتونو رامنځ ته کول**

د ملکي خدمتونو انستیټوټ په ۱۳۹۹ مالي کال کې د ملکي خدمتونو بورسونو انلاین کولو طرحې طی مراحل پراخ کړي دي څو له مخې یې له هېواد څخه بهر د ملکي خدمتونو کارکوونکو لپاره د لنډ مهاله اغیزناکه، چټکتیا او اسانه زده کړو زمینه برابره شي. په دې برخه کې د ICT له بنسټ او نورو ذیربطو بنسټونو سره لازمه همغږي شوې ده. په همدې توګه، په بهر کې د لنډ مهاله زده کړو ترلاسه کولو لپاره د شفافیت او په شرایطو برابر کسانو ته د فرصت رامنځ ته کولو لپاره د ملکي خدمتونو انستیټوټ د ازموینو د منځپانګې جوړولو او څېړنو مرکز په همکارۍ د انګلیسي پوښتنو بانک پراخ کړی چې

په ۱۴۰۰ مالي کال کې به په دې برخه کې ټولې رقابتي ازموینې کمپیوټري شي.

په دغه کال کې د ملکي خدمتونو انستیټوټ له هېواد څخه بهر په مدیریتي او مسلکي څانګو کې په لنډ مهاله کورسونو کې په شرایطو برابر ۶۰ تنو کارکوونکو ته د زده کړو زمینه برابره کړې ده. په ۱۳۹۹ مالي کال کې په مجموعي توګه، ۴۶۸ تنه د لنډ مهاله کورسونو ترلاسه کولو په پروسې کې سیالی وکړې چې له دې جملې ۱۸۷ تنه په شرایطو برابر اړوندو بنسټونو ته معرفي شول.

په همدې توګه لومړۍ ځل لپاره، د جاپان نړیوالې ادارې (جایکا) په همکارۍ غیر حضوري ټولګي سمبال شوي چې په ۱۳۹۹ کال کې د ملکي خدمتونو په انستیټوټ کې د دولتي ادارو دویمو واحدونو رییسانو په شتون کې پرانیستل شو. له لارې واټن په دغه روزنیز پروګرام کې د ملکي خدمتونو ۶۰ تنه کارکوونکي ـ په فردي یا ډله ییز ډول روزنه ترلاسه کوي. ټاکل شوې وه چې د روغتیا، کرنې، اوبو مدیریت، سوداګرۍ، رهبرۍ، هوایي چلند، جندر، برق، کلیو پراختیا، حوادثو، پالیسي جوړولو،زېربناوو او معارف په برخو کې ۷۲ روزنیزپروګرامونه د جایکا ادارې لخوا په حضوري ډول جاپان کې جوړ شي، خو د کرونا ویروس خپرېدو مخنیوي له امله، اوس دغه پروګرام له لرې واټن ترسره کېږي.

## د عامه پوهاوي په برخه کې فعالیتونه

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون د ارتباطاتو برخې د عامه پوهاوي پروګرامونو ترتیب او تطبیق په برخه کې د بېلابېلو ارتباطي لارو فعالیت کوي. هغه فعالیتونه چې د اطلاع رسولو او د کمېسیون فعالیتونو انعکاس په برخه کې شوي، کولای شو په لاندې توګه یې یادونه وکړو:

- د غونډو او کنفرانسونو جوړول (قرنطین اړوند احتیاطي تدابیرو او کرونا ناروغۍ ته په پام سره، د غونډو او کنفرانسونو جوړول له محدودیتونو سره مخ شول.)
- له کمېسیون څخه د علمي سیر لپاره همغږي
- له ملي او نړیوالو رسنیو سره مرکې
- په دوه رسمي ژبو او انګلیسي ژبه د ټولنیزو شبکو او ویبپاڼې نوي کول (اپډیټ)
- د ملکي خدمتونو بستونو اعلان په برخه کې د اطلاع رسولو لپاره د تبلیغاتي کلېپونو جوړول
- د ملکي خدمتونو دستګاه غوره کارکوونکو د وېډیو ګانو جوړول
- په راډیویي او ټلویزیوني خپرونو کې د کمېسیون د لاسته راوړنو او فعالیتونو انعکاس
- د کمېسیون له پروګرامونو د لنډو ویډیو ګانو جوړول
- اطلاعاتو ته د لاس رسي قانون له مخې خلکو ته د اطلاعاتو وړاندې کول
- د کورنیو او بهرنیو پوهنتونونو محصلینو سره په تیزس کې مرسته

خلکو سره د اړیکې مرکز، اطلاعاتو ته د لاس رسي کړنلارې او قانون کې د مندرجو معیارونو پر اساس، د معلوماتو وړاندې کولو بهیر یې اسانه او چټک کړی او هره ورځ له هر ولایت څخه د اطلاعاتو غوښتونکو ته د لسګونه اړیکو او برېښنا لیکونو ځواب ویونکی دی.

د (اطلاع رسولو په برخه کې) د مرغومي میاشتې ـ لیندۍ میاشتې پورې د اطلاعاتو غوښتونکو شمېر

**د مراجعینو خدمتونو مرکز له لارې د اطلاعاتو وړاندې کول**

| ټیلیفوني اړیکې | برېښنا لیک | حضوري ډول د اطلاعاتو غوښتل |
| --- | --- | --- |
| ۲۰۲۶ | ۳۰۵ | ۳۵۱۷۰ |



د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون بېلابېلو برخو څخه د کاتب پوهنتون محصلینو لیدنه

د مراجعینو خدمتونو مرکز، د ۱۳۹۸ کال مرغومي میاشتې د ۱۳۹۹ کال لیندۍ میاشتې پورې د ورې او غویي میاشتې پرته چې د کرونا اړوندو محدودیتونو تـه پـه پام سره، رخصت وو، ۳۵ زر او ۱۷۰ تنه هېوادوالو تـه معلومات ورکړي دي.

**د مراجعینو خدمتونو مرکز له لارې د هرې میاشتې په تفکیک د معلوماتو وړاندې کول**




## د کمیسیون ولایتي او مرکزي ریاستونو د مالي او حسابي، تدارکاتي، اداري او مسلکي چارو څېړل

د کندهـار، لوګـر، سـمنګان، جوزجـان، بلـخ، میـدان وردګ، پـروان، پنجشـیر، کاپیسـا د (۱۳۹۸) کال مـالي، حسـابي، اداري او مسـلکي چـارې او د پروان ولایـت او مرکزي برخـو د داخلـي تفتیش ریاسـت کلنـي پـلان مطابـق د تغییـر پـروژې ریاسـت تدارکاتـو امریـت د (۱۳۹۸ او ۱۳۹۹) مـالي کلونـه د مؤظف پـلاوي لخوا بعدي او جـاري توګه څېـړل شـوي چـې د څېړنـو پـه پایلـه کـې د مؤظف پـلاوي لخـوا د یـادو ریاسـتونو او امریتونو مسـؤلینو تـه د نواقصـو او نیمګړتیـاوو لـرې کولـو او پـه مـالي، حسـابي، تـدارکاتي، مسـلکي او حساب ورکولـو او حساب اخیسـتو مسـایلو کـې پـه یـو ډول د ا.ا.ج نافذه قوانینـو او مقرراتـو رعایت کولـو کـې لازمـي نظریـې او سپارښـتنې وړانـدې شـوې.

**د اداري اجرااتو ښه والي لپاره اصلاحي سپارښتنې او لارښودي نظریات**

| سپارښتنې | مالي او اداري | د اجرااتو له ارزونې نظارت | له تعییناتو نظارت | شکایتونو څېړل |
|---|---|---|---|---|
| د سپارښتنو شمېر | ۱۳۶ | ۲۳ | ۳۵ | ۶ |

## بودیجې لګښت څرنګوالی





د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون
د دارالامان عمومي سړک، د سناتوریم کوڅه، کابل

د اړیکي شمېره: ۰۰۹۳(۰)۷۹۵۴۱۴۲۶۰

ایمیل: public.relation@iarcsc.gov.af

پوست بکس: ۵۲۴۱

Iarcsc.gov.af @IarcscGov www.iarcsc.gov.af